# خوشحالا او دولتا

د رحمان بابا د چاپي او خطي دېوانو د میم په پوړ کښي یوه بدلته سته، چي مقطع (وروستنی بیت) ئې داسي دئ :

خوشحالا او دولتا مي غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

(د پښتو ټولني چاپ کړئ دېوان ۱۰۴ کابل)

دغه بیت له هغه وخته چي شاعر ویلئ دئ لوستونکي یا اروېدونکي ته يې ذهني کړاو او تلاښ ورپېښ کړئ دئ، چي رحمان بابا دي په ښادي سي خوشحال او دولت خو ئې دواړه مریان ګڼلي دي، مګر دغه (الف) څه شي دئ چي د دوي د نومو په پای پوري ئې ورنښلولئ دئ؟

زما په یاد دي چي پنځه دېرش کاله دمخه د پښتو پوهانو پر دې بیت باندي خبري او لیکني کولې، او ځینو دغه دوې کلمې خوشحالان او دولتان هم لوستلي دي. او تر دوی لا دمخه په ځینو خطي نسخو کښي هم دغسي لیدل کیږي. د کابل د خطي کتابخانې په یوه خطي نسخه کښي دا مسری داسي اړول سوې ده :

"یو خوشحال سل خټک نور مي غلامان دي"

د رحمان بابا یو بل خطي دېوان چي په (۱۲۸۱ هـ ق ) شاه نور کاتب دکنړ د اخوندزاده فضل احمد لپاره لیکلئ دئ (اوس د ښاغلي ډاکټر حبیبي په کتابخانه کښي دئ) دغه بیت کورټ لري نه.

او دا ځکه چې کاتب ئې په معنا نه دئ پوهېدلئ نو يې گرده بيت له دېوانه ايستلئ دئ.

دا چې رحمان بابا شاعرانه تفاخر په ايشنا کښي خوشحال او دولت خېل غلامان گڼي تر ده دمخه يا وروسته نورو شاعرانو هم دا کار کړئ، پخپله خوشحال خان وايي :

د دولت دېوان مي ومانده په گوډي
مسخره مي ارزاني خويشکی زمند کړ

عبدالقادر خان خټک د خوشحال خان زوی بيا داسي کتري وايي:

زه ختک د يار په غم تازه تازه سوم
غوريه خېل رحمان که سو ورځني ستړی

خاقاني خپل ځان د سنايي پر ځای ناست مستحق سخن گستر بولي:

چون زمان عهد سنائی در نوشت
آسمان چون من سخن گستر بزاد

غني کشميري شاعر ويلي وه :

چه عجب طبعم اگر دعوی اعجاز کند
که بلطف سخنم نيست کسی را سخنی

ميرزا عبدالقادر بيدل په داسي ډول خپل ځان ستايي :

معنی گر شريک معنيت پيدا نشد بيدل !
جهان گشتم بصورت نيز نتوان يافت مانندت

نو بهٔ موږ د رحمان بابا دغه شاعرانه ځان ځاني ومنو، که څه هم خوشحال خان پخپلو رنگارنگ اشعارو او ښکلو او خوږو بدلو د پښتو د شاعرانو د لومړی پوړ په سر کښي دريږي خو رحمان بابا هم د پښتو ژبي يو عالمگير شاعر دئ او پښتنو په بابايي منلی دئ، مگر د رحمان بابا د گرانښت او لوېښت سبب هم دا دئ چې دی د خپل



لطف احساس او نري فکر ترجماني په ښايستو الفاظو کوي او د پښتو ژبي د اداء او تعبير لاري چاري نه ورانوي نو که داسي وي دغه خوشحالا او دولتا زايد الفونه له کومه راغله؟

دلته بايد دا خبره هېره نه کړو چې رحمان بابا د خپل عصر او چاپېر په ادبي رواياتو سره رانغښتي سړی ؤ، او ده له دری ادبياتو څخه ډېر څه لوستي او را اخيستي دي.

د ايران او هند او خراسان په دری ادبياتو کښي پس له نهمي هجري پېړۍ څخه د شاعرانو د تخلص يا لقب په پای کښي يو الف د تعظيم او لوېښت لپاره زياتېدئ چې په پخواني ادب کښي ئې د (اشباع الف) باله، او د قافيې د سمولو لپاره به ئې مثلاً د کمال او جمال کلمې جمالا يا کمالا کښلې او د کلماتو په پای کښي ئې زايد الف نښلاوه، لکه:

دوش بود خوب و روخشانا
پروين پيدا و ماه تابانا

(المعجم فی معايير اشعار العجم ۲۰۹)

وروسته وروسته دغه زايد الف د تعظيم لپاره د نومو په پای پوري د پايڅوړ په ډول نښلول کېدئ، غياث رامپوري داسي کاږي :

"الف تسميه برای تعظيم در آخر اعلام والقاب آرند، چون جلالا نصيرا، ظهيرا، طالبا، تقيا، صائبا و غيره" (غياث اللغه ۶۵)

آرزو د هند نقاد شاعر وايي :

"ميرزا جلالا طباطبايي از سادات تهپايه از عراق به هند آمد" (داد سخن ۷۳)

د دغه ميرزا جلالا منشيات سته، چي يوه خطي نسخه (۲۹۴۴) دی د پنجاب په پوهنتون کښي ده.

دغه الف چي د لوېښت او غټولو نخښه ده، وروسته په فارسي ادب کښي ډېره رواج سوه، لکه :

حکیم رکنا مسیح، ملیحا سمرقندی، شفیعا تبریزي، نصیحا سمرقندی، غیاثا حلوایی ...

ملا محمد سعید اشرف خپل استادان صائب اصفهانی عبدالرشید دیلمی خطاط داسي ستايي :

کرده بود ایزد عنایت خوشنویس و شاعری
کز وجود هر دو کردی افتخار ایام ما
بود اسم و رسم آن عبدالرشید دیلمی
بود نام ابن علی بیگ و تخلص صائبا ...
گفتم از ارشاد پیر عقل در تاریخ آن
(مرگ هر دو) بود به هم مردن آقا رشید و صائبا

(۱۰۸۶ هـ) (د اشرف خطی دېوان د مشهد نسخه)

کله چي ابو طالب کلیم مشهور شاعر مړ سو غنی کشمیري وویل :

حیف که از دیوار این گلشن پرید
طالبا آن بلبل باغ نعیم

(د غنی چاپي دېوان ۲۴۹)

د دری ژبي یو بل تکړه شاعر سردار هارون خان د حاجی جمال خان محمدزی زوی دئ، چي په گرشک اود بارکزو په ناوه کښي اوسېدئ کلا ئې تر اوسه په نادعلي کښي ده. دی پخپل دېوان کښي د صائب اصفهانی د یوې غزلي جواب وايي، چي آخر بیت ئې دا دئ :

هارون جواب آنغزل صائبا که گفت
"حالا که خلق کار برای خدا کننده"

( د هارون خطی دېوان ۱۰۷)

اوس به نو تاسي ته ښه معلومه سوې وي چي تر نهمي پېړۍ را وروسته دا یو ډول تعظیم او ادب وُ چي د شاعرانو د تخلص یا لقب په پای کښي د تعظیم الف ونښلوي لکه چي لوړ ئې مثالونه تاسي



وکتل. نو رحمان بابا هم د دغه ادبي سنت تابع وُ او خوشحال ئې خوشحالا او دولت لوڼ ئې دولتا بللي دي.

دا د شاعر د احساس غورځنگ دئ چي ختک او لوڼ غوندي شاعران تر ځان کښته گڼي، خو بیا ئې هم نوم په تعظیم اخلي، او د نامه په استربل پوري ئې (الف) نښلوي.

رحمان بابا خو یو دروېش او متواضع صوفي وشمه ملنگ ښکاري، خو د شاعرۍ وياړنه ئې داسي ده، چي خوشحالا او دولتا غوندي په لويښت منلي خلک هم سيالان نه بولي.

تاسي څه واياست؟ زه خو وايم چي "د بهادر کلي" دغه دروېش ښه ویلي دي او د دری ژبي دغه ادبي دود ئې ښه ساتلی دئ. (۱)

(۱) د عبدالرحمن مومند یاد، ۱۳۶۹ لمریز کال د (الف) مخ.